# د ملي ترمينالوژۍ پېژندنه، ارزښت او ساتنه

ليکوال: عبدالکبير(حساس)

لنډيز:
د دغې مقالې په منځپانګه کې د ملي ترمينالوژۍ د پېژندنې په اړه له کره سرچېنو څخه د اخيستل شويو تعريفونو، په جغرافيوي اډانه کې د ملي ترمينالوژۍ په محدوديتونو، په ملي ترمينالوژۍ کې د ملي ژبې په ارزښت، د ملي ترمينالوژۍ د نه شتون په ستونزو، د ملي ترمينالوژۍ د رامنځته کېدو په څرنګوالي او دا چې د افغانستان په ملي ترمينالوژۍ کې د ملي ژبې تر څنګ د نورو کومو ژبو نومونې او اصطلاحات شتون لري، هر اړخيز ګړار او بحث شوی دی.

پيليزه:
دا چې زموږ په ګران هېواد افغانستان کې د ملي ترمينالوژۍ په اړه ډېرى وخت د وګړو د ټيټې کچې پوهاوي له امله د ملي نومونو او اصطلاحاتو په اړه خپل منځي اختلافونه په شخړو اوړي او بهرنۍ کړۍ

له دغو اختلافونو څخه په ګټې اخیستنې سره خپلې نومونې د کلتوري یرغل په بڼه پر موږ مني او هڅه کوي چې زموږ د ملي ترمینالوژۍ نومونې څنډې ته کړي. څرنګه چې په اړونده سکالو کې د افغان ولس د پوهاوي کچه ټیټه ده، دوی هم په ناخبرۍ کې د نورو هېوادونو د ملي ترمینالوژیو تر اغېزې لاندې راځي او د خپلې ملي ترمینالوژۍ پښې وهي، نو ما هم اړینه وګڼله چې د افغان ولس د ناسم پوهاوي د حل په موخه د ملي ترمینالوژۍ د پېژندنې، ځانګړنو، ارزښت، نویزونو او ساتنې په اړه دغه پوهنیزه مقاله له بېلابېلو سرچېنو او اخځلیکونو څخه چمتو کړم، هیله ده چې لوستونکي به د دغې مقالې په لوستلو سره د ملي ترمینالوژۍ په اړه بشپړ مالومات ترلاسه کړي.

موخه:

د افغانستان وګړو ته د ملي ترمینالوژۍ د پېژندنې، ارزښت، ساتنې او بډاینې په اړه پوهاوی ورکول.

میتود:

د مقالې په لیکنه کې د شننې او ارزونې له میتود

څخه کار اخیستل شوی دی.

د ملي ترمینالوژۍ تعریف او سپړنه:

ترمینالوژي(Terminology) له انګرېزي ژبې څخه اخیستل شوې کلیمه ده، چې په پښتو ژبه کې یې نومونې او په عربي ژبه کې یې اصطلاحات بولي. په لنډه توګه یې داسې تعریفولای شو: ټول هغه ویونه او کلیمې چې د یو هېواد د بشپړې جغرافیې د ټولو ژبو په منځ کې یو ډول کارول کېږي او یا یې د شته دولتونو له لوري په ټول هېواد کې په یو ډول کارول اړین ګڼل شوي وي، ملي نومونې (ملي ترمینالوژي) بلل کېږي او یا په بله بڼه ملي ترمینالوژي د ملت په کچه د کړکېښ په اوږدو کې د واکمنو دولتونو له خوا منل شوې نومونې، نښې، کوډونه، سمبولونه او نور پوهنیز او اداري اصطلاحات او مقولې دي چې هره یوه یې په خپل ځای کې ځانګړې مانا او موخه څرګندوي. ملي ترمینالوژي د یو هېواد له نوم څخه نیولې؛ تر ټولو لویو او کوچنیو رسمي او نارسمي چارو پورې د نوم ټاکنې په بڼه رامنځته کېږي او د یو ملت یا هېواد د ملي ځانګړنو او پېژند بڼه غوره کوي. د یادونې وړ ده چې د

هر هېواد د ملي ترمينالوژۍ بنسټ د هماغه هېواد ملي ژبه جوړوي او ملي ژبه د يو ملت د توکميز ډېروالي او لوړې سلنې له مخې ټاکل کېږي.

ملي ترمينالوژي په جغرافيوي اډانه کې:

ملي ترمينالوژي د هر هېواد د پولو په اډانه کې محدودې نومونې دي، چې په هماغه جغرافيه کې له ځانګړې مانا او ارزښت څخه برخمنې وي. هېڅ هېواد نه غواړي چې د بل هېواد نومونې او اصطلاحات د دوی له پولو څخه ورتېر شي او ملي ترمينالوژۍ ته يې زيان ورسوي، بلکې دغه ډول کړنې کلتوري يرغل بلل کېږي، دولتونه يې د مخنيوي لپاره بېلابېلې هڅې ترسره کوي او دا چاره خپله ملي دنده او مسووليت بولي. دا خبره بېخي ناسمه ده چې وايي «ويونه پولې نه پېژني»، هر هېواد د خپلې ملي ژبې پر بنسټ ملي نومونې، ويونه او اصطلاحات د ملي ترمينالوژۍ په توګه ټاکي او د امکان تر بريده هڅه کوي چې د نورو هېوادونو د ژبو ويونه د دوی له سياسي او کلتوري پولو څخه ورتېر نه شي، په ځانګړې توګه هغه ويونه چې د نورو هېوادونه له لوري د ټاکلو سياسي او

کلتوري موخو په پار په یرغلیزه توګه ریښه پیدا کوي؛ خو دلته د اړتیا سکالو هم له پامه نه غورځول کېږي، که چېرته ځینې نومونې او اصطلاحات زموږ په ژبه کې شتون ونه لري او یا هغوی ته ورته او مترادف ویونه ونه لرو؛ نو بیا اړتیا لیدل کېږي چې د نورو هېوادونو اصطلاحات را واخلو، د بېلګې په ډول: راډیو، تلویزیون، ټیلیفون او داسې نور؛ خو موږ نه شو کولای له انګرېزي ژبې څخه د سوپریم کورټ( Supreme court) اصطلاح په خپله ملي ترمینالوژۍ کې ومنو، ځکه دا منطقي نه ده چې د خپلې ملي ژبې د منل شوې نومونې(سترې محکمې) پر وړاندې یې وکاروو او بله اړینه خبره دا ده، که چېرته د یو هېواد د ملي ترمینالوژۍ نومونې د نورو هېوادونو له پولو څخه تېرېدلای او کلتوري یرغل نه بلل کېدلای، نو ولې په ایران کې پوهنتون ته (دانشګاه) او په تاجکستان کې (دانشسرا) وایي؟ په داسې حال کې چې دوی په ژبو کې سره نږدې دي. خو دلته خبره د ملي ترمینالوژۍ ده چې دولتونه یې د خپلو پولو په اډانه کې له هر ډول کلتوري یرغل او لاسوهنې څخه د ساتلو مسوولیت لري. که اټکل وکړو یو څوک په انګلیستان کې پوهنتون

ته د یونیورسیټي پر ځای دانشګاه ووایي، آیا انګرېزان به یې ورسره ومني او یا په ایران کې څوک د دانشګاه پر ځای د پوهنتون اصطلاح وکاروي، آیا ایرانیانو ته به د منلو وړ وي؟ که ځواب مو نه وي، افغانستان هم یو بشپړ خپلواک هېواد دی او ځان ته خپل قوانین او کلتور لري، نو له خپلو قوانینو او کلتور سره سم باید د افغانستان دولت خپلې ملي، پوهنیزې او اداري نومونې وساتي او اجازه ورنه کړي چې د سیمې هېوادونه په پرله پسې کلتوري یرغلونو سره زموږ ملي ترمینالوژي د ملي اصطلاحاتو له اړخه د نیستۍ په موړګه ودروي.

په ملي ترمینالوژۍ کې د ملي ژبې ارزښت:

ملي ژبه د هر هېواد د ملي پېژند نښه ده، د بېلګې په توګه: تاجکي د تاجکستان، ازبکي د ازبکستان او ترکي د ترکیې ملي ژبې دي او هغوی یې د خپل ملي پېژند په توګه پېژني، په داسې حال کې چې په پورته یادو شویو هېوادونو کې ګڼې نورې ژبې هم شتون لري؛ خو دلته اصلي خبره د ډېرکیو د ژبې ده، چې لږکیو د ملي ژبې او د هېواد د پېژند په توګه منلې ده او زیاتره ملي اصطلاحات هم د ډېرکیو په ژبه ټاکل شوي دي

چې د اړوندو هېوادونو په ټولو ژبو کې په یو ډول ویل کېږي او هېڅوک یې مخالفت نه شي کولای. نو له پورته نړیوالو اصولو سره سم د افغانستان ټول اوسېدونکي هم باید د ډېرکیو ژبه (پښتو) د ملي ژبې او پېژند په توګه ومني او په دولتي کچه یې د ساتنې او بډاینې لپاره هڅې وکړي.

د ملي ترمینالوژۍ د نه شتون ستونزې:

که چېرته په یو هېواد کې د ملي ترمینالوژۍ په اډانه کې ځانګړې نومونې او اصطلاحات رامنځته نه شي او د هغه هېواد د بېلابېلو ژبو ویونکي له خپلې ژبې سره سم ملي، پوهنیزو او اداري ځایونو ته بېلابېل نومونه واخلي، نو په دولتي چارو کې به د لویې ګډوډۍ سبب شي او هېڅوک به هم د یو ځای، کس، رتبې او ځانګې په پیدا کولو او پېژندلو کې په آسانۍ سره بریالی نه شي. د بېلګې په ډول: په افغانستان کې مور د ملي ترمینالوژۍ له مخې د لویې څارنوالۍ، پوهنتون، پوهنځي، پېژنتون، زېږنتون او یا د ښاروالۍ منل شوې نومونې لرو، دا هېڅ امکان نه لري چې په یو هېواد کې دې لویې څارنوالۍ ته په پشه یي،

نورستاني، ازبکي، ترکمني، پاميري، بلوڅي، دري او نورو ژبو کې لسګونه نومونې وکاروو. دا ډول کار د انساني کړکېښ په لړ کې د نړۍ په هېڅ هېواد کې نه پخوا شوی او نه هم اوس شتون لري. که چېرته موږ د يوې ملي نومونې پر ځای له ګڼو نومونو څخه کار واخلو، دا چاره په هېواد کې د ورونو توکمونو تر منځ د بېلتون او پاشلتيا سبب کېږي، ځکه هر څوک به هڅه کوي چې د ملي نومونې پر ځای د دوی د ځايې ژبې اصطلاح ومنل شي او نورې ژبې څنډې ته کړي.

ملي ترمينالوژي د چا لپاره رامنځته کېږي؟

ملي ترمينالوژي د نړيوالو او سيمې د هېوادونو د غوره پوهاوي په پار نه رامنځته کېږي، بلکې هر هېواد ته د خپلو هېوادوالو پوهاوی، ژبه او کلتور اړين دی، موږ نه شو کولای چې د نړيوالو د ژبو، لهجو او ترنګونو په پار خپله ملي ترمينالوژي کړکېچنه او د پرديو د کلتوري ګټو قرباني کړو.

د افغانستان په ملي ترمينالوژۍ کې د کومو ژبو نومونې او اصطلاحات شتون لري؟

یوه خبره باید له پامه ونه غورځول شي چې د افغانستان ټول وګړي د (افغان) نومونې تر چتر لاندې د یو ملت په توګه ژوند کوي، د دې لپاره چې د نړۍ له نورو ملتونو سره مو توپیر وشي، د ملي، اداري، پوهنیزو او نورو اړینو برخو لپاره په هېوادنۍ کچه ملي نومونو او اصطلاحاتو ته اړتیا لرو، له نېکه مرغه په افغانستان کې ملي نومونې له ډېر پخوا څخه رامنځته شوې دي او ټول افغانان د هېواد په هر ګوټ کې پرې پوهېږي. د یادونې وړ ده چې ځینې شریرې کړۍ داسې ناسمې آوازې خپروي چې د افغانستان ملي ترمینالوژي یوازې په پښتو ژبه ده، په داسې حال کې چې دا خبره ناسمه ده او د دوی موخه د ورونو توکمونو تر منځ د نفاق اور بلول دي. دا سمه ده چې د افغانستان ملي ژبه پښتو ده، خو په ملي ترمینالوژۍ کې سل سلنه ټولې نومونې په پښتو ژبه نه دي، بلکې د افغانستان په ملي ترمینالوژۍ کې د دري، فرانسوي، عربي، ترکي، یوناني، انګلیسي او داسې نورو ژبو نومونې او اصطلاحات هم شامل دي؛ د بېلګې په ډول: کاغوش(د سرتېرو د خوب کوټه)، قراول(د پوځي چونۍ دروازه) او قول اردو له ترکي ژبې څخه

اخیستل شوي اصطلاحات دي، موټر، ماشین، کمپیوټر، موبایل، تلویزیون او راډیو له انګلیسي ژبې څخه اخیستل شوي اصطلاحات دي، محکمه، قضاء، وزارت، ریاست او ولایت له عربي ژبې څخه اخیستل شوي اصطلاحات دي، لېسه او کانکور له فرانسوي ژبې څخه اخیستل شوي اصطلاحات دي، د ورځو نومونه، دفتر، بست، استاد، حاضري، قرارګاه او داسې نور ګڼ ویونه له دري ژبې څخه اخیستل شوي اصطلاحات دي او همدارنګه اکاډمي  او پولیس له یوناني ژبې څخه اخیستل شوي اصطلاحات دي؛ نو که د دولتي او نادولتي ځایونو، پوځي رتبو، بولنو او پوهنیزو رتبو نومونه په ملي ژبه (پښتو) ټاکل شوي وي، باید د افغانستان ټولو وګړو ته د منلو وړ وي او په ټولو چارو کې یې په پام کې ونیسي. د یادونې وړ ده؛ چې له پردیو ژبو څخه د اصطلاحاتو خوښول او پورول د هر چا دنده نه ده او د اړتیا پر وخت دا کار باید د مسوولو چارواکو په لارښوونه د هېواد د علومو اکاډمۍ د ژبپوهانو په مرسته په بشپړ احتیاط سره ترسره شي.

تجربو ثابته کړې ده؛ کله چې یوه پردۍ اصطلاح ملي ترمینالوژۍ ته دننه شي، ځینې نور ویونه هم له

ځان سره راوړي، ځکه له هر مصدر څخه نورې کليمې زېږېږي، چې په ژبنيز چاپېريال کې خورا ستونزې پيدا کوي او يا د ستونزو د حل لامل کېږي، د بېلګې په ډول: د افغانستان په ملي ترمينالوژۍ کې عربي ژبه ډېرې ژورې ريښې لري، په ځانګړې توګه د افغانستان حقوقي او قانوني اصطلاحات کابو ټولټال په عربي ژبه دي، دلته يې يوه اصطلاح د بېلګې په توګه را اخلو؛ لکه محکمه چې مصدر يې حکم دی او د حکم له مصدر څخه محکمه، حاکم، محکوم، محکوم عليه، محکوميت، حاکميت، محکوم له، محاکم او ګڼې نورې کليمې زېږېږي، چې د غوښتنې پر وخت اړتياوې پرې پوره کېدلای شي، خو که د ايران په غوښتنه په افغانستان کې د محکمې پر ځای دادګاه وکارول شي، دلته پوښتنه را ولاړېږي چې د دادګاه له اصطلاح څخه د اړتيا پر وخت څومره کليمې زېږېدلای شي؟ څرګنده خبره ده چې په پورته شمېر کليمې نه شي ترې زېږېدلای او کاروونکی يې اړ دی چې نورو کليمو ته د اړتيا پر وخت بېرته د حکم مصدر ته ور وګرځي، نو بېرته ګرځېدل يې داسې مانا لري چې يو څوک د يوې نومونې او اصطلاح له اصل څخه انکار کوي، خو فرعي اړخونه

يې ورته د منلو وړ وي، چې دا کار يې په روښانه توګه له منطق سره په ټکر کې دی.

پايله:

ملي ترمينالوژي د هېواد ستر ملي ارزښت او پېژند دی، چې د هېواد په ټولو توکمونو پورې اړه لري. دولت او چارواکي يې بايد په ساتنه او بډاينه کې هڅې وکړي او له هر ډول کلتوري يرغلونو څخه يې وژغوري. د ملي ترمينالوژۍ بډاينه او نويزونه د هېواد د علومو اکاډمۍ او د اطلاعاتو او کلتور وزارت دنده ده، هېڅوک پکې د کمونې او زياتونې حق نه لري، هر څوک چې پکې د ګوتو وهلو هڅه کوي، بايد د ملي خيانت په تور محاکمه شي، تر څو د هېواد ملي وقار لوړ وساتل شي او د کلتوري يرغلګرو شومې موخې ناکامې شي.

اخځليکونه:

١. هوډمن، محمد اجمل. ٢٠١۴ هـ ل. ملي، اداري او پوهنيزو اصطلاحاتو کې لاس وهنه ملي خيانت دی. مقاله: بېنوا وېبپاڼه.

۲. غفوري، نورمحمد. ۲۰۰۸ هـ ل. د ملي ترمينالوژۍ په پام کې نيول اړين دي. مقاله: روهي وېبپاڼه.

۳. مرادزی، سرلوڅ. ۲۰۱۲ هـ ل. هر هېواد خپله ملي ترمينالوژي لري. مقاله: بېنوا وېبپاڼه.

۴. احمدزی، عبدالله ابن مبارک. ۲۰۱۵ هـ ل. پښتو ژبه کې د پور ويونو کارونه. مقاله: نن وېبپاڼه.

۵. د پښتو او انګليسي ويکيپېډيا.

۶. د کامبريج انګليسي قاموس.

---

#يادښت: دغه مقاله مو پر فېسبوک پاڼو او ټولنيزو رسنيو خپره کړئ، تر څو ټولو ته ورسېږي.